

© Carl De Keyzer

# VOLUNTARY RETURN

## ایا تاسو خپل هېواد ته د بېرته ستنېدو په اړه فکر کوئ؟ موږ کولای شو ستاسو سره مرسته وکړو.

**0800 32 745 (free number)**

**www.voluntaryreturn.be**

Discover the return stories on
www.vrijwilligeterugkeer.be/en-gb/stories

fedasil
FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

ibz

Co-funded by the European Union

## 1 زه څنګه کولای شم خپل اصلي وطن ته بېرته ستون شم؟

تاسو هر وخت پرېکړه کولای شئ چې خپل اصلي وطن ته بېرته ستانه شئ؛ د سفر تنظیم او لګښت به خپله پر غاړه لرئ. که دا ستاسو لپاره ممکنه نه وي، موږ کولای شو په ګډه وګورو چې آیا تاسو د رضاکارانه بېرته ستنېدو پروګرام له لارې مرسته ترلاسه کولای شئ که نه.

## 2 خپلواکه بېرته ستنېدنه څه ته وايي؟

که تاسو په بلجیم کې د قانوني اسنادو پرته پاتې شئ، ټمه به وي چې تاسو په خپله لګښت بېرته ستانه شئ. موږ دې ته خپلواکه بېرته ستنېدنه وایو. ایا تاسو نشئ کولای دا په خپله تنظیم کړئ؟ له موږ سره اړیکه ونیسئ، موږ به په ګډه وګورو چې آیا تاسو د رضاکارانه بېرته ستنېدو پروګرام له لارې مرسته ترلاسه کولای شئ که نه.

## 3 رضاکارانه بېرته ستنېدنه څه ته وايي؟

ستاسو خپل اصلي وطن ته بېرته ستنېدنه، چې پرېکړه يې تاسو خپله کوئ. که تاسو د بېرته ستنېدو ملاتړ ته اړتیا لرئ، تاسو کولای شئ له موږ سره اړیکه ونیسئ ترڅو وګورو چې څه امکانات شته.

## 4 زه کوم ځای ته تللی شم؟

تر ټولو ساده لاره دا ده چې خپل اصلي وطن ته بېرته ستانه شئ. تاسو کولای شئ بل هېواد ته هم سفر وکړئ، خو یوازې هغه وخت چې تاسو هلته د داخلېدو لپاره معتبر اسناد ولرئ او د بېرته ستنېدو اجازه مو لا هم معتبره وي.

## 5 د بېرته ستنېدو پرېکړه څه ته وايي؟

«د بېرته ستنېدو پرېکړه» یا «د خاورې پرېښودو امر» هغه سند دی چې پکې هغه موده ذکر شوې وي چې تاسو باید په هغې کې بلجیم پرېږدئ.

## 6 پخپله خوښه ستنېدنې لپاره څنګه غوښتنه وکړم؟

په بلجیم کې له یو دفتر یا ادارې سره اړیکه ونیسئ، له خپل ټولنیز کارکوونکي سره په دې اړه خبرې وکړئ، یا وړیا شمېرې 45 327 0800 ته زنګ ووهئ. کله چې تاسو غوښتنه وکړئ، موږ لومړی ګورو چې آیا تاسو د رضاکارانه بېرته ستنېدو د ملاتړ لپاره وړ یاست که نه.

## 7 زما د رضاکارانه بېرته ستنېدو تنظیم څوک کوي؟

د رضاکارانه بېرته ستنېدو پروګرام کولی شي تاسو یوازې یو ځل د بېرته ستنېدو په برخه کې مرسته وکړي. د بېرته ستنېدو د الوتکې یا بس سفر د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره په ګډه تنظیمېږي. د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، کاریتاس انټرنېشنل یا بل همکار سازمان ستاسو د اصلي وطن ته له رسېدو وروسته مرسته برابروي.

## 8 ایا زه باید کوم لګښت ورکړم؟

نه. که تاسو د رضاکارانه بېرته ستنېدو د ملاتړ لپاره وړ یاست، نو ستاسو د الوتکې یا بس ټکټ او همدارنګه د هوایي ډګر یا رېل سټېشن ته ټرانسپورټ به تادیه کېږي. تاسو باید خپل د سفر اسناد پخپله له خپل سفارت څخه ترلاسه کړئ. دا لګښتونه به تاسو ته د سفر له تګ مخکې بېرته درکړل شي. که تاسو د رضاکارانه بېرته ستنېدو د ملاتړ لپاره وړ نه یاست، نو باید د خپل سفر لګښت پخپله ورکړئ.

## 9 زه د سفر اړین اسناد له کوم ځایه ترلاسه کولای شم؟

که تاسو نور د خپل اصلي وطن ته د بېرته ستنېدو لپاره د پېژندنې اسناد ونه لرئ، نو باید د خپل هېواد سفارت ته ورشئ. سفارت کولای شي تاسو ته پاسپورټ یا د سفر سند درکړي. که تاسو له ستونزو سره مخ شئ، موږ کولای شو ستاسو سره مرسته وکړو.

## 10 زه څومره سامان له ځان سره وړلای شم؟


دلته د هوایي شرکت یا بس شرکت د سامان قواعد پلي کېږي: تاسو باید د بکسونو شمېر او اعظمي وزن نه اوړئ. نو له همدې امله پام وکړئ چې ډېر سامان له ځان سره مه راوړئ!

## 11 ایا د بېرته ستنېدو سفر له ملتیا سره ترسره کېږي؟

هو. له بلجیم څخه د وتلو پر مهال، یو مشاور به تاسو ته د الوتنې ټکټونه او هر ډول امتیاز چې تاسو مستحق یې یاست درکړي. وروسته، هغه به تاسو د سرحدي کنټرول تر ساحې پورې ملتیا وکړي. تاسو ته به یو پېژندل کېدونکی بکس درکړل شي چې هوایي ډګر ته یې له ځان سره یوسئ، څو مشاور وکولای شي ژر تاسو وپېژني. که تاسو وغواړئ او که امکان ولري، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، کاریتاس انټرنېشنل یا بل سیمه‌ییز همکار کارکوونکی کولای شي ستاسو د اصلي وطن ته د رسېدو پر مهال تاسو ته انتظار وکړي.

## 12 زما په هېواد کې ژوند اسانه نه دی. زه د کوم ډول مرستې ټمه کولای شم؟

موږ په خپل هېواد کې له سیمه‌ییزو همکارانو سره کار کوو چې کولای شي ستاسو د بیا ادغام په برخه کې مرسته وکړي. د بېلګې په توګه، هغوی کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي چې خپل کاروبار پیل کړئ، ستاسو د طبي لګښتونو تادیه وکړي یا تاسو ته د دندې موندلو کې مرسته وکړي. هر څوک دا مرسته نه ترلاسه کوي؛ هر وضعیت بېلابېل وي.



*This brochure is intended for foreigners without a residence permit in Belgium. It is available in 15 languages: Albanian, Arabic Armenian, Dari, Dutch, English, French, Georgian, Mongolian, Pashto, Portuguese, Russian, Serbian, Spanish and Turkish. You can download the different language versions on www.retourvolontaire.be/en-gb/partners.*

# CONTACT US.

www.voluntaryreturn.be/contact-us

